هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۳۵) ماه جمادي الاول ۱۴۴۸ هـ ق. مطابق ماه میزان ۱۴۰۵ هـ. ش

مطالعه کتب دینی و آثار علمی سبب می‌شود تا از منکرات، مخدرات و تهاجم فرهنگی بیگانگان دور باشیم.

د پوهنې وزارت مالي او اداري معین زابل ولایت ته د سفر پر مهال د یاد ولایت له والي سره وکتل



د پوهنې وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل زابل ولایت ته د سفر پر مهال د یاد ولایت له والي محترم الحاج ملا شیرمحمد شریف سره وکتل او د شوونیز بهیر پر پیاوړتیا او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه یې خبرې وکړې. د زابل والي محترم الحاج ملا شیرمحمد شریف، د پوهنې وزارت مالي او اداري معین او ورسره مل پلاوي ته د شبه راغلاست ترڅنګ د پوهنې د برخې د پرمختګ او پیاوړتیا لپاره د همغږۍ او ګډو هڅو پر ارزښت ټینګار وکړ، نوموړي د مدرسو او شوونځیو د شمېر زیاتولو د شوونیزو بنسټونو د تشکیل، د شوونکو د شارګوټي ستونزو د حل او د پوهنې په برخه کې د نورو اړینو اړتیاوو په اړه خبرې وکړې.

ورپسې د پوهنې وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل د زابل له والي او سیمه ییزو مسؤلینو څخه د همکارۍ او همغږۍ له امله مننه وکړه او وې ویل چې د پوهنې د بهیر پیاوړتیا د مدرسو او شوونځیو د ودانیو جوړول او ترمیم، د شوونیزو بنسټونو تشکیل د ستونزو حل او د شوونکو د شارګوټي د چارو سمون د پوهنې وزارت له لومړیتوبونو څخه دي، نوموړي زیاته کړه د پوهنې د پرمختګ او د ملک راتلونکي نسل د سالمې روزنې لپاره د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي او ګډ کار اړین دی او هڅه کېږي چې د زابل ولایت په ګډون د ملک په ټولو سیمو کې د ماشومانو لپاره د زده کړې مناسب شرایط برابر او د شوونیزو خدمتونو د پراختیا په برخه کې شته ستونزو ته رسېدنه وشي. د زابل ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالرحمن حمیدي هم د زابل ولایت د پوهنې په برخه کې شته اړتیاوې او ستونزې له مالي او اداري معین او د زابل له والي سره شریکې کړې، نوموړي په شوونځیو او مدرسو کې د ودانیو کمښت د نویو شوونیزو بنسټونو د جوړولو اړتیا د موجوده ودانیو د ترمیم د تشکیل د کمښت او نورو اړینو برخو په اړه معلومات وړاندې کړل او د یادو ستونزو د حل په برخه کې یې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

همداراز د پوهنې وزارت مالي او اداري معین په دې سفر کې د شوونکو له شارګوټي څخه هم لیدنه وکړه او د شوونکو د ژوند د شرایطو د شبه والي، د هغوی د ستونزو د ارزونې او د اړوندو چارو د منظم پرمختګ پر ارزښت یې ټینګار وکړ، نوموړي همداراز خرګنده کړه چې د شوونکو د اړتیاوو او ستونزو درک کول او د شته امکاناتو په رڼا کې ورته د حل لارو موندل د پوهنیز نظام د پیاوړتیا لپاره مهم ارزښت لري.

تقدیر از شاگردان برتر مسابقات علمی در ولسوالی گلدره

به‌منظور تشویق و تقدیر از استعدادها و تلاش شاگردان، محفل تقدیر و توزیع جوایز مسابقات حسن قرائت، تقریر، مسابقات علمی ساینس و ورزشی از سوی آمریت معارف ولسوالی گلدره ولایت کابل برگزار شد.

در این محفل، محترم مولوی عبدالله عابد آمر تربیه معلم و تعلیمات عمومی ریاست معارف ولایت کابل، محترم مولوی اخترمحمد قانت معاون ولسوالی گلدره، محترم شیخ عبدالرحمن فاروقی عضو شورای علمای ولایت کابل، محترم مفتی عتیق‌الله رئیس محکمه ولسوالی گلدره، معاون محترم استخبارات ولسوالی گلدره، آمرین معارف ولسوالی‌های استالف و کلکان، اعضای آمریت معارف گلدره، علماءکرام، مدیران و معلمان مکاتب، مهتممین مدارس، بزرگان و شماری از شاگردان حضور داشتند. در این محفل محترم مولوی محراب‌الدین حماس، مدیر عمومی تربیه معلم و انکشاف مسلکی ولسوالی گلدره، در مورد چگونگی برگزاری مسابقات علمی...

ص ۲

د پوهنې وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو لپاره علمي، اصلاحي او روزنیزه غونډه جوړه شوه



د پوهنې وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د تنفیذ مرکزي هیئت او د دعوت او ارشاد ریاست په نوښت، د یاد وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو لپاره علمي، اصلاحي او روزنیزه غونډه جوړه شوه.

په پیل کې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري ګډونوالو او مېلمنو ته د شبه راغلاست ترڅنګ، له کارکوونکو وغوښتل چې د دعوت او ارشاد لارښوونې او اصول په بشپړه توګه رعایت کړي.

نوموړي وویل: د ننني غونډې موخه، د تېرو آزموینو د مخکښو ګډونوالو ستاینه، د دیني موضوعاتو ارزونه، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د مفاهیمو روښانه کول، د دیني پوهاوي لوړول او د کارکوونکو د علمي، فکري او اخلاقي وړتیاوو د پیاوړتیا په اړه د لازمو لارښوونو وړاندې کول دي.

ورپسې د دعوت او ارشاد د چارو د سمون لوی رئیس محترم شیخ محب الله مخلص...

۲مخ


کار بازسازی ۴ باب مدرسه و مکتب در بامیان تکمیل و به بهره برداری سپرده شد

کار بازسازی چهار باب مدرسه و مکتب در ولسوالی شیبر ولایت بامیان که از سوی ریاست معارف تطبیق گردیده بود پس از تکمیل کار بازسازی آن از سوی محترم قاری عنایت الله سهار رئیس معارف آن ولایت افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

رئیس معارف ولایت بامیان گفت: این پروژه‌ها از بودجه عادی ریاست معارف ولایت بامیان به هزینه مجموعی دو میلیون و ۱۶۸ هزار و ۳۲۴ افغانی عملی گردیده است.

وی افزود: در چارچوب این پروژه‌ها، ساختمان‌های لیسه پسرانه چجین ورس، لیسه دکانی مرکز، مدرسه کنگور غندک و لیسه پسرانه دهن غندک ترمیم شده‌اند که با تکمیل این پروژه‌ها، زمینه بهتر و مصؤن آموزشی برای صدها تن طلاب العلم و شاگرد فراهم گردیده است. وی همچنان گفت ریاست معارف ولایت بامیان متعهد است تا با تطبیق پروژه‌های انکشافی و ترمیماتی در راستای بهبود زیربناهای تعلیمی و فراهم‌سازی محیط مناسب برای آموزش شاگردان تلاش نماید. قابل ذکر است که در سال جاری تعمیر حدود ۳۹ باب مکتب از سوی ریاست معارف ولایت بامیان ترمیم گردیده و ساختمان شماری از مکاتب در حال ترمیم است.

پکتیا کې د خصوصي شوونځیو د سلګونو زده‌کوونکو ترمنځ د سیرت النبی ﷺ سیالي ترسره شوه



د پکتیا ولایت پوهنې ریاست، اطلاعات او کلتور ریاست او الکوثر فکري او فرهنګي ادارې په ګډه همغږۍ د شاوخوا زرو تنو د خصوصي شوونځیو زده کوونکو څخه د ګردیز شار په ورزشي لوبغالي کې د سیرت خاتم الانبیا ﷺ په نوم کتاب چې د نبی کریم ﷺ ژوند مختصر جامع او مستند حالات او واقعات پکې بیان شوي آزموینه واخیستل شوه.

په هغه غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د پکتیا ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي وویل: د رسول الله ﷺ مبارک سیرت د مسلمانانو لپاره د ژوند تر ټولو غوره او بشپړ لارښود دی او د زده‌کوونکو په فکري او اخلاقي روزنه کې ځانګړی ارزښت لري، دزده کوونکو لپاره د داسې سیالیو په لاره اچول مهم دي، ترڅو زده کوونکي دساینسي علومو ترڅنګ دني کریم ﷺ له ژوند سره بلد او خپل اعمال او ژوند د نبی کریم ﷺ د اعمالو او اقوالو سره سم عیار کړي.

همداراز د پکتیا ولایت...

۲مخ

در این شماره

۲ مخ — پوهنې وزارت د ملک بچیانو سالمې روزنې ته ژمن دی

۳ مخ — وقف ۲۱ جریب زمین از سوی مردم به ریاست معارف ولایت هرات

۴ مخ — د ۱۴۰۵ هـ ل کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د کیفیت د تضمین معینیت عمدهٔ فعالیتونه

سرلیکنه

پوهنې وزارت د ملک بچیانو سالمې روزنې ته ژمن دی

بسم‌الله الرحمن الرحیم
اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

زده‌کړه د انسان د فکري ودې، اخلاقي روزنې او د ټولنې د پرمختګ بنسټ دی. علم انسان ته د ژوند د ستونزو د حل، د ښه ژوند او د روښانه راتلونکي د جوړولو لارې چارې ورښيي؛ خو د زده‌کړې ریښتینی ارزښت هغه مهال څرګندیږي چې ترلاسه شوې پوهه د انسان په چلند او عمل کې مثبت بدلون رامنځته کړي.

د نن ورځې زده کړه د داسې نسل روزل دي چې د علم ترڅنګ ښه اخلاق، عملي مهارتونه او د ټولنې د خدمت روحیه ولري. طلاب العلم او زده‌کوونکي باید وکولای شي خپلې زده‌کړې په ورځني ژوند کې په عملي توګه وکاروي، د ستونزو د حل لپاره مناسبې لارې وموندي او د خپل ځان او ټولنې په پرمختګ کې اغیزمن رول ولوبوي.

په دې بهیر کې د قدرمنو مدرسینو او ښوونکو رول بنسټیز ارزښت لري. مدرسین او ښوونکي یوازې په کتابونو کې د معلوماتو لیږدوونکي نه بلکې د طلاب العلم او زده‌کوونکو د فکر، شخصیت او استعدادونو روزونکي هم دي. مدرسین او ښوونکي باید د درسي مطالبو د تدریس ترڅنګ، طلاب العلم او زده‌کوونکي په ورځني ژوند کې د نوښت، عملي فعالیتونو او د ترلاسه شوې پوهې د کارولو لپاره وهڅوي.

همدارنګه، والدین باید له مدرسې او ښوونځي سره په همغږۍ د خپلو اولادونو د علمي او اخلاقي روزنې ملاتړ وکړي؛ ځکه د کورنۍ، مدرسې او ښوونځي ګډې هڅې د زده کوونکو د سالم شخصیت په جوړونه کې مهمه ونډه لري. طلاب العلم او زده‌کوونکي هم باید په دې پوه شي چې علم د بریا لپاره دوامداره هڅو مطالعې او زحمت ګاللو ته اړتیا لري. هغوی باید زده‌کړه یوازې د لوړو نمرو او سندونو د ترلاسه کولو وسیله ونه ګڼي، بلکې د خپل شخصیت جوړونې، د ژوند د مهارتونو د پیاوړتیا او د ټولنې د خدمت لاره پې وبولي. کله چې علم له عمل او اخلاقو سره مل شي زده‌کړه خپل بشپړ ارزښت څرګندوي.

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې د کیفیت لوړول د ښوونیزو فرصتونو پراختیا او د ملک د ماشومانو او ځوانانو سالمه روزنه د خپلو مهمو مسئولیتونو په توګه تعقیبوي. پوهنې وزارت د اسلامي اصولو په رڼا کې د داسې ښوونیز نظام پیاوړتیا ته پاملرنه کوي چې طلاب العلم او زده‌کوونکي پکې د علم تر څنګ د عملي مهارتونو، سالم فکر، ښو اخلاقو او مسئولیت‌منلو وړتیا هم ترلاسه کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره د مدرسینو، ښوونکو، والدینو، د پوهنې مسئولینو او ټولنې ګډه همکاري اړینه ده.

پوهنې وزارت ژمن دی چې خپلو مسئولیتونو او شته امکاناتو ته په کتو د باکیفیته ښوونې او روزنې د پراختیا، د زده‌کړې د مناسبو فرصتونو د برابرولو او د ښوونیز بهیر د لا اغیزمنتیا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

پوهنې وزارت باور لري چې د معارف پرمختګ یوازې د مدرسو او ښوونځیو په جوړولو یا د درسي کتابونو په برابرولو نه بشپړیږي، بلکې د داسې نسل په روزلو پورې هم تړلی دی چې خپله پوهه د ګران افغانستان د پرمختګ لپاره وکاروي.

په پای کې باید یادونه وکړو چې د ملک روښانه راتلونکی د نن ورځې د نسل په سالمه روزنه کې نغښتی دی. د پوهنې وزارت به د علم د پراختیا، د تعلیمي فرصتونو برابرولو او د داسې نسل د روزنې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي چې د پوهې، اخلاقو او عملي وړتیاوو په مټ د خپل ملک د پرمختګ جوګه شي.

راځئ چې د زده‌کړې ارزښت یوازې په خبرو کې نه بلکې ټول په ګډه په عمل کې ثابت کړو؛ ځکه د نن ورځې په زده‌کړه کې زموږ هڅې د سبا ورځې د یوه آباد، پرمختللي او په ځان بسیا افغانستان بنسټ جوړوي.

وقف ۲۱ جریب زمین از سوی مردم به ریاست معارف ولایت هرات

باشندگان معارف‌دوست ولسوالی‌های گذره، کرخ، پشتون زرغون و ادرسکن ولایت هرات به هدف ساخت مکاتب در این ولسوالی ها، ۲۱ جریب زمین شخصی شان را که ارزش مجموعی آن به بیش از ۷ میلیون و ۸۸۲ هزار افغانی میرسد به ریاست معارف ولایت هرات اهدا نمودند.

محترم مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت هرات، ضمن قدردانی از این اقدام نیک و ارزش‌مند باشندگان ولسوالی‌های یادشده، می‌گوید که زمین‌های اهدا شده به‌منظور ساخت مکاتب در این ولسوالی‌ها اختصاص یافته است.

وی هم‌چنان حمایت و همکاری مردم را در راستای رشد و توسعهٔ معارف مهم و اساسی دانسته افزود: مشارکت مردم در فراهم‌سازی امکانات آموزشی، نقش ارزنده‌ای در رفع نیازمندی‌های مکاتب و ایجاد زمینهٔ مناسب آموزش برای فرزندان ملک دارد.

کمک بیش از یک میلیون افغانی شوراهای مدارس و مکاتب در ولسوالی سید آباد ولایت سرپل

مسئولان آمریت معارف ولسوالی سید آباد ولایت سرپل می گویند از سوی شوراهای مدارس و مکاتب به هدف حمایت از روند تعلیم و تربیه و همکاری با مدارس ومکاتب، مبلغ یک میلیون و پنج هزار افغانی کمک‌های مردمی دریافت نموده و در بخش‌های مختلف معارف به مصرف رسانده‌اند.

محترم الحاج حمیدالله هوتک آمر معارف ولسوالی سیدآباد می‌گوید که این کمک‌ها در بخش‌های مختلف از جمله تهیه و بهبود زمین مکاتب، انجام ترمیمات مورد نیاز، حمایت از معلمین و تشویق و ترغیب شاگردان به ادامه آموزش و پیشرفت در مسیر علم به مصرف رسیده است.

وی افزود: مشارکت و همکاری مردم از طریق شوراهای مدارس و مکاتب، در بهبود محیط آموزشی، تقویت روحیه همکاری میان خانواده‌ها، مکاتب و اداره معارف و پیشبرد بهتر امور آموزشی و تربیتی نقش مؤثر دارد.

ریاست معارف ولایت سرپل ضمن قدردانی از همکاری مردم و شوراهای مدارس و مکاتب، بر تداوم این همکاری‌های مشترک تأکید نموده و مشارکت مردمی را در راستای تقویت نظام تعلیم و تربیه و فراهم‌سازی زمینه بهتر تعلیم و تربیه برای فرزندان ملک ارزشمندمی‌داند.

د پوهنې وزارت د کارکوونکو چارو لوی رئیس بادغیس ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د کارکوونکو چارو لوی رئیس محترم الحاج مولوي جنت‌ګل عزیزی په مشرۍ پلاوي بادغیس ولایت ته سفر وکړ او هلته پې د پوهنې له رئیس محترم الحاج مولوي محب‌الله احسان او د پوهنې ریاست له یو شمېر آمرینو سره وکتل. په دې لیدنه کې د بادغیس ولایت پوهنې رئیس له پلاوي سره د هر اړخیزې همکارۍ او د هغوی د کاري پروګرامونو د ښه پلي کېدو په برخه کې د لازمو آسانتیاوو د برابرولو ډاډ ورکړ. د کارکوونکو چارو لوی رئیس د خپل سفر موخه، د خالي بستونو کتنه، په ټاکلي وخت د وړ کسانو ګمارنه، په دغه ولایت کې د ښوونکو د ګمارنې لارښود د اغیزمنتیا ارزونه او له ښوونیزو مرکزونو څخه څارنه او ارزونه وبلله.

د میدان وردګ ولایت د دیني مدارسو او دارالحفاظونو ۲۰ تنه ممتاز طلاب العلم تقدیر شول

د دایمیرداد ولسوالۍ د پوهنې آمریت اړوند د دیني مدارسو او دارالحفاظونو ۲۰ تنه هغه ممتاز طلاب العلم چې څه موده وړاندې پې د دیني مضامینو په آزموینه کې لوړې نمرې تر لاسه کړې وې د یوې غونډې په ترڅ کې وستایل شول.

په یاده ستاینغونډه کې د میدان وردګ ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالحق حقاني د دیني زده کړو د ارزښت او د ممتازو طلاب العلم د هڅونې په تړاو وویل، د دیني علومو زده کړه د اسلامي ټولنې د فکري او اخلاقي روزنې بنسټ جوړوي او د ممتازو طلاب العلم تقدیر او هڅونه د هغوی د علمي لاسته راوړنو او هڅو د قدردانۍ ترڅنګ، د نورو زده‌کوونکو لپاره هم د لا زیات تشویق، سالمې سیالۍ او علمي پرمختګ انګېزه پیاوړې کوي.

نومورې همداراز ټینګار وکړ چې د دیني زده کړو د کیفیت لوړول، د علم او پوهې د زده کړې د کلتور پیاوړتیا او د طلاب العلم هڅول د پوهنې ریاست له لومړیتوبنو څخه دي.

د پوهنې ریاست مسئولین وایي په دغه آزموینه کې ټولو ګډونوالو طلاب العلم ته ډالۍ ورکړل شوې خو ۲۰ تنو ممتازو طلاب العلم ته د هغوی د غوره علمي لاسته راوړنو او ښو پایلو له امله د هغوی د هڅونې په موخه د دیني زده کړو اړوند کتابونه د ځانګړو ډالیو په توګه ورکړل شول.

د یادونې وړ ده، چې د ممتازو طلاب العلم تقدیرول د زده‌کړې په بهیر کې د هڅونې، سالمې علمي سیالۍ او د علمي لاسته راوړنو د ارزښتمنولو یوه اغیزناکه وسیله ده، چې د زده کړو د کیفیت په لوړولو کې مهم رول لوبولی شي.

تقدیر از شاگردان برتر مسابقات علمی در...

که چندی پیش برگزار شده بود معلوماتی را ارائه نمود.

در ادامه محترم مولوی عبدالله عابد بر اهمیت تعلیم و تربیه، رشد استعدادهای شاگردان و نقش مسابقات علمی، دینی و ورزشی در تقویت توانایی‌های فکری، اخلاقی و علمی آنان صحبت نموده و تشویق نسل جوان به فراگیری علم و دانش را مهم دانست.

همچنان محترمان هر یک مولوی اخترمحمد قانت، شیخ عبدالرحمن فاروق و سایر سخنرانان بر اهمیت علم و دانش، تعلیمات دینی تربیت سالم شاگردان، اخلاق نیک، ورزش و تشویق جوانان و شاگردان به رشد استعدادها و کسب مهارت‌های علمی و عملی تأکید کردند.

در این محفل، برای ۲۰ تن از شاگردان برتر در بخش‌های مختلف جوایز و تحایف توزیع و از دستاوردهای آنان تقدیر به عمل آمد.

د پوهنې وزارت مرکزي هستې منسوبینو ...

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د فرمانونو په اړه هر اړخیزه وینا وکړه او د هغو د بشپړ تطبیق ترڅنګ پې د اسلامي اصولو او اخلاقو پر رعایتولو ټینګار وکړ.

نومورې زیاته کړه: د یوه مسلمان د شخصیت ښکلا د صورت او سیرت په سمون، ښو اخلاقو، نېک چلند، اخلاص، امانتداری او د اسلامي اصولو په عملي کولو کې نغښتې ده.

په ورته مهال، د دعوت او ارشاد ریاست د ترسره شویو آزموینو له مخې، د پوهنې وزارت د مرکزي هستې اړوند ۲۵۴ تنه ممتاز ګډونوال چې لوړې نمرې پې ترلاسه کړې وې د یاد ریاست د مسئولینو له لوري په ستاینلیکونو وویاړل شول.

دغه علمي، اصلاحي او روزنیزه غونډه د دعوت او ارشاد ریاست د مدرس محترم مولوي محمد زبیر له لوري په دعائیې سره پای ته ورسېده.

پکتیا کې د خصوصي ښوونځیو د سلګونو تنو زده‌کوونکو ...

د اطلاعات او کلتور رئیس محترم مولوي فیض الله جوهري دوینا پرمهال وویل چې د رسول الله ﷺ سیرت باید یوازې د سیالیو او آزموینو تر کچې محدود نه شي، بلکې د هغه مبارک ژوند، اخلاق او لارښوونې په خپل ورځني ژوند کې عملي کړو.

پروژهٔ برتر رقابت علمی ساینس و ریاضیات در ...

ولسوالی دولینه انتخاب شد، هم‌چنان پروژه‌های موشک، اسلحه M۱۶، اسکواتور و موتر باربری ساخته شده از سوی شاگردان به ترتیب مقام‌های دوم الی پنجم را بدست آوردند. از سویی هم مسئولان معارف ولسوالی دولینه برگزاری چنین برنامه‌ها را برای رشد استعدادهای علمی، تقویت روحیهٔ تحقیق و ابتکار، تشویق شاگردان به فراگیری علوم و شناسایی استعدادهای درخشان مؤثر دانسته و بر تداوم برنامه‌های علمی و تعلیمی در مکاتب تأکید کردند.

برگزاری نشست اعلام نتایج امتحان ...

توزیع گردید که شامل ،یک پایه کمپیوتر لپتاپ ، یک عراده بایسکل ساعت دستی وچندین جوره لباس بود .این برنامه به ابتکار آمریت معارف شهر پلخمری و کمک مالی یک نهاد همکار صورت گرفته بود.

مسئولان معارف ولایت بغلان برگزاری چنین برنامه‌های علمی و دینی را در رشد ظرفیت علمی و فکری شاگردان مؤثر دانسته و تأکید نمودند که آشنایی نسل جوان با سیرت و تعالیم پیامبر گرامی اسلام ﷺ، زمینه‌ساز تقویت اخلاق، نظم، مسئولیت‌پذیری و روحیه خدمت‌گزاری در جامعه می‌گردد.

د ۱۴۰۵ هـ .ل کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د کیفیت د تضمین معینیت عمده فعالیتونه

کیفیت لرونکې ښوونه او روزنه د ټولنې د دوامدار پرمختګ له بنسټیزو اړتیاوو څخه ده. له همدې امله، د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت هڅه کوي چې د ملک د پوهنې بهیر له پلان جوړونې او تطبیق څخه نیولې تر څارنې، ارزونې د زده‌کړو د پایلو تر سنجش او فارغانو ته د معیاري خدمتونو تر وړاندې کولو پورې پر روښانه معیارونو، کره معلوماتو او باوري شواهدو ولاړ وي؛ د همدې موخې د تحقق په لړ کې، د کیفیت د تضمین معینیت د ۱۴۰۵هـ.ل کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د معیاري آزموینو، څارنې او ارزونې، معلوماتو او احصایې، علمي څېړنو او د پایلو او شهادتنامو د خدمتونو د بربښنایې وېش په برخو کې مهم او اغېزناک فعالیتونه ترسره کړي دي، چې په پایله کې یې د پوهنې د کیفیت د لوړولو، د تعلیمي بهیر د معیاري کولو او د معلوماتو پر بنسټ د پرېکړو د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي.

د معیاري آزموینو او باوري پوښتنو بانک پر لور حرکت

د کیفیت د تضمین معینیت د مهمو فعالیتونو څخه یو هم د لېسې دورې د معیاري آزموینو د نظام پیاوړتیا ده. په دې موده کې د لېسې دورې د معیاري آزموینو د پلي کېدو طرحه چمتو او د کیفیت د تضمین معینیت د آزموینو له پلاوي سره شریکه شوه. همدارنګه د آزموینې د پوښتنو د کیفیت او اعتبار د لوړولو په موخه د پوښتنو بانک د ارزونې او اعتبار ورکولو پلاوی جوړ شو، د یوولسمو او دولسمو ټولګیو د پوښتنو بانک د ارزونې او اعتبار ورکولو پلان ترتیب او اړوندو ریاستونو ته واستول شو. د یادو ټولګیو د پوښتنو د بانک د ارزونې او اعتبار ورکولو بهیر هم بشپړ او د پلي کېدو لپاره چمتو شوی دی.

همدارازد پوښتنو د بانک بربښنایې سیستم بیا وکتل او بشپړ شو، چې په آزمایښتي ډول د هر مضمون لپاره ۲۰ پوښتنې په سیستم کې ثبت شوې دي. دغه اقدام د پوښتنو د بانک د منظم مدیریت، د آزموینو د امنیت د لوړولو او معیاري پوښتنو ته د لاښه لاسرسي زمینه برابروي، ترڅنګ یې د ښوونکو د وړتیاوو د ارزونې د لارښود مسوده بشپړه او د بیاکتنې او اړینو اجراآتو لپاره اړوندو مراجعو ته استول شوې ده. په همدې لړ کې د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت د پلان له مخې او د آزموینو د هیئت د پرېکړې پر بنسټ د کابل ښار او ولایتونو په مرکزونو کې د څلور نیم میاشتنیو آزموینو د معیاري کولو په موخه مهم ګامونه پورته شوي دي. د دې بهیر په ترڅ کې د اسلامي تعلیم او تربیې، ریاضي، کیمیا، بیولوژي، جغرافیې او لومړۍ ژبې مضامینو لپاره د هر مضمون ۱۰۰ معیاري پوښتنې د درسي نصاب د موخو او محتوا له مخې د پوښتنو له بانک څخه ټاکل شوې او د ولایتونو د پوهنې له ریاستونو سره شریکې شوي دي. د چمتو شوي لارښود له مخې، د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د هر مضمون لپاره ۱۰ معیاري پوښتنې ټاکلې او آزموینې یې په خپلو اړوندو ولایتونو کې په یو شان سراسري او هم‌مهاله توګه پلي کړې.

د یادو معیاري آزموینو پلي کېدل د ښوونکو، زده‌کوونکو، د ښوونځیو د مدیرانو او د ولایتونو د پوهنې د مسؤلینو له لوري مثبت ارزول شوي.

ترڅنګ یې د زده‌کوونکو د زده‌کړې کچې او د تعلیمي کیفیت د معلومولو په موخه، چې د پوهنې وزارت د ستراتیژیک پلان له مهمو لومړیتوبونو څخه دی، د شپږم او نهم ټولګیو د زده‌کوونکو د زده‌کړې د کچې د ملي ارزونې پلان هم چمتو شوی. دغه پلان د پوهنې وزارت د مقام له منظورۍ وروسته د ملک په اوو ګرمو ولایتونو کې پلی شوی. د ترسره شویو ارزونو پایلې تر څېړنې او تجزیې وروسته له اړوندو مسؤلینو او مراجعو سره شریکې شوې، تر څو د زده‌کوونکو د زده‌کړې د کچې د ښه والي او د تعلیمي کیفیت د لوړولو لپاره د راتلونکو اقداماتو په طرحه او پلي کولو کې تر ډېره ګټه واخیستل شي.

څارنه او ارزونه؛ د شواهدو پر بنسټ د پرېکړو پر لور حرکت

د څارنې او ارزونې په برخه کې هم مهم او عملي ګامونه اخیستل شوي دي. د څارنې او ارزونې پلانونه ترتیب، تدقیق او منظور شوي او د پلي کېدو په حال کې دي. د کارکوونکو د وړتیا لوړولو او د څارنې د نوو لارو چارو په اړه د ګډ پوهاوي د رامنځته کولو په موخه د ۶۶ کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرام جوړ شوی.

په دغه پروګرام کې د څارنې شاخصونه، د ارزونې وسایل، د راپور ورکولو فورمې، په لیکه سیستم او د میاشتنیو راپورونو د ثبت څرنګوالی تشریح شوی؛ همداراز د ارزونې د نوو وسایلو د آزمایښتي پلي کولو لپاره د کابل ښار د بېلابېلو ښوونیزو حوزو او د کابل ولایت د شپږو ولسوالیو له ۱۴۴ ښوونیزو بنسټونو، چې مدرسې، ښوونځي او دارالعلومونه پکې شامل دي، معلومات او ارقام راټول او په بربښنایې جوړښت کې ثبت شول. دغه کړنې د دې زمینه برابروي چې د څارنې او ارزونې بهیر له یوازې اداري برخې څخه د پروګرامونو اوبرنامو د شاخصونو، معلوماتو او شواهدو پر بنسټ د اغېزمنې څارنې او ارزونې پر لور لا زیات پرمختګ وکړي.

له بل پلوه، د برنامو د پلي کېدو له څرنګوالي څخه منظم دوره یې راپورونه ترتیب او د صلاحیت لرونکو مسئولینو په واک کې ورکړل شوي، ترڅو اطلاعاتو ته د لاسرسي زمینه برابره، د برنامو له پلي کېدو څخه ډاډ ترلاسه او پر وخت تصمیم ونیول شي.

کره معلومات؛ د پوهنې د پلان جوړونې او پرېکړو بنسټ

د شپږو میاشتو له مهمو لاسته راوړنو څخه یوه هم د پوهنې د احصایې او معلوماتو د مدیریت په برخه کې پراخ فعالیتونه دي، په دې موده کې د ښوونیزو بنسټونو په کچه ۴۱ زره او ۲۸۶ احصایوي فورمې وېشل شوې، چې له دې ډلې څخه تر اوسه ۳۰ زره فورمې د سړو سیمو له ښوونځیو څخه راټولې شوې دي.

همدارنګه د بامیان، نورستان، ارزګان او زابل ولایتونو د سړو سیمو د ولسوالیو د۲۶۰ ښوونیزو بنسټونو د احصایوي ارقامو د تأیید او تصدیق بهیر په بشپړه توګه پای ته رسېدلی دی؛ له بلې خوا، د کابل ښار د ۱۶۸۴ تعلیمي بنسټونو احصایوي معلومات په نوي سیستم کې ثبت او پورته شوي او د ۲۰۰ تعلیمي بنسټونو جغرافیایي موقعیتونه هم تثبیت شوي دي.

د دې لپاره چې اداري وکولای شي د پلان جوړونې، پرېکړو او راپورونو د چمتو کولو لپاره اړینو معلوماتو ته لاسرسی ولري، د غوښتونکو ادارو لپاره ۲۷ سیستمي کارن‌حسابونه جوړ او فعال شوي دي. همدارنګه د تعلیمي بنسټونو د ایجاد، ارتقا، تعدیل او نورو اړوندو چارو په اړه ۱۵۶۷رسمي مکتوبونه په سیستم کې ثبت او لازم اجراآت یې په اړه ترسره شوي دي.

علمي څېړنې؛ د څېړنې او د پوهنې د اصلاح ترمنځ پیوستون

د کیفیت د تضمین معینیت د څارنې او ارزونې ترڅنګ، څېړنه او علمي تحقیق هم د ښوونیز نظام د پرمختګ له مهمو وسیلو ګڼي. د ۱۴۰۵هـ.ل کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۸ څېړنو طرحې بشپړې او د ساحوي تطبیق لپاره د پوهنې وزارت د مقام منظوري ترلاسه شوې ده. همدارنګه د ترسره شویو ۵ څېړنو پایلې له څارنې او ارزونې او معیاري آزموینو له ریاستونو سره شریکې شوې، تر څو د ښوونیزو پالیسیو او پروګرامونو په جوړولو، اصلاح او تدوین کې تر ډېره ګټه واخیستل شي. د څېړنو د بانک د پیاوړتیا په موخه د پوهنې په برخه کې ۱۵ علمي څېړنیزې مقالې راټولې او په څېړنیز بانک کې ثبت شوي، همدارنګه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون او نورو څېړنیزو مرکزونو ۲۸ نورې مقالې هم د څېړنو په بانک کې ثبت او پورته شوې دي.

د ریاضي مضمون د آزموینې د پوښتنو جوړښت او محتوا د ارزونې او د هغې د معیاري کولو د لارو چارو په اړه یوه څېړنه په آزمایښتي ډول د کابل ښار په درېیو ښوونځیو او یو باب مدرسه کې تطبیق شوې ده.

د زرګونو فارغانو ښوونیزو اسنادو مدیریت د معیاري او بربښنایې خدمتونو پر لور ګام

د پایلو او شهادتنامو ریاست هم د ۱۴۰۵هـ.ل کال په لومړیو ۶ میاشتو کې د تعلیمي بنسټونو فارغانو ته د پام وړ خدمات وړاندې کړي دي. په دې موده کې ۸ زره او ۹۹۶ متفرقه، ۲۶ زره او ۱۱ انفرادي او ۹۹ زره او ۴۱۱ ډله‌ییزې شهادتنامې د تطبیق وروسته اجرا شوې دي، همدارنګه ۷۳ زره او ۸۲۱ تشې شهادتنامې د ولایتونو د معارف ریاستونو او مرکز ته وېشل شوې او ۱۶ زره او ۸۵۶ د فارغانو شهادتنامې د تطبیق او تأیید وروسته د ډبرین مهر لپاره د بهرنیو چارو وزارت ته معرفي شوې دي.

د تعلیمي اسنادو د بربښنایې کولو او آرشیف په برخه کې ۱۷۵ زره او ۹۴۶ د فارغانو د پایلو شهرتونه سکن او په CMIS سیستم کې پورته شوي او ۱۵۴ زره او ۵۴۱ د پایلو جدولونه له موجوده آرشیفي اسنادو سره تطبیق شوي دي، همدارنګه ۱۷ زره او ۶۱۳ د پایلو جدولونه د هارډ (سخت) او سافټ(نرم) نسخو له تطبیق وروسته مهر او لاک شوي او ۵ زره او ۱۹۶ د پایلو جدولونه چې د ولایتونو د معارف ریاستونو او مرکز څخه رارسېدلي وو، تدقیق، تطبیق او تأیید شوي دي.

د بربښنایې خدمتونو په برخه کې هم ۱۶ زره او ۴۴۱ د کارموندنې فورمې، استعلامونه عریضې او د زده‌کوونکو تعلیمي سوابق اصلاح شوي او د فراغت تصدیقونه د RCMIS سیستم له لارې تصدیق، تأیید او اړوندو مراجعو ته استول شوي دي.

د ښوونځیو د اعتبار ورکولو او کیفیت تضمین لپاره نوی ګام

د کیفیت د تضمین معینیت له مهمو او راتلونکو فعالیتونو څخه یو هم د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو لپاره د اعتبار ورکولو او کیفیت تضمین چوکاټ د مسودې چمتو کول دي. دغه چوکاټ د تخنیکي پلاوي له لوري چمتو شوی او د کیفیت د تضمین معینیت له همکارانو سره په ګډو ناستو کې شریک شوی، څو مسلکي نظریات پکې شامل شي. د دغه چوکاټ عملي کېدل کولای شي د ښوونځیو د وضعیت د منظمې ارزونې، د هغوی د پیاوړتیاوو او کمزوریو د تشخیص او د ښوونې او روزنې د کیفیت د لا ښه والي لپاره د هدفمندو کړنو زمینه برابره کړي.

لنډ خبرونه

پنجشیر

د پنجشیر ولایت دره، آبشار، حصه اول او پریان ولسوالیو اړوند د ساینس او ریاضي مضمونونو ۱۱۲ تنو ښوونکو لپاره د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړونې شپږ ورځنی برنامه جوړه شوه.

زابل

د پوهنې وزارت لخوا په ۳ میلیونه افغانیو مالي لګښت سره د زابل ولایت پوهنې ریاست په مرکزي هسته کې د یوې اداري ودانۍ او د یاد ولایت اړوند ۹ ښوونځیو د ترمیم چارې پیل شوې.

غزني

د غزني ولایت قره‌باغ ولسوالۍ اړوند احیاءالعلوم الامنیه مدرسې نوې ودانۍ د پوهنې مسئولینو قومي مشرانو او د سیمې د اوسېدونکو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

نورستان

د نورستان ولایت پوهنې ریاست تدریسي مرستیال محترم الحاج رسول خان ساجد او دسایس مرکز استادانو په حضور کې د نورګرام او برګیمټال ولسوالیو ۴۲ تنو ښوونکو ته د محیطي موادو څخه په استفادې د تدریس په برخه کې د عملي تجربو د ترسره کولو په موخه ۶ ورځنی روزنیزه برنامه جوړه شوه.

لوګر

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ اړوند د ګمران کلي له ګمران ښوونځي سره د یوه معارف دوست شخص له لوري د ۱۲۰ زره افغانیو په ارزښت یو کمپیوټر، رنګه پرنټر، د لمریزې بربښنا سیستم او یو شمېر نورو اړینو وسایلو مرسته وشوه.

کابل

به‌منظور تقویت علوم دینی، گسترش فرهنگ مطالعه و افزایش آگاهی شاگردان از سیرت و آموزه‌های پیامبر اکرم حضرت محمد مصطفی ﷺ، آمریت معارف ولسوالی استالف ولایت کابل آزمون آزاد سیرت‌النبی ﷺ را با اشتراک ۶۶۰ تن از شاگردان مکاتب و مدارس این ولسوالی برگزار کرد.

غور

در شش ماه نخست سال جاری کار ساخت ساختمان‌های ۱۲ باب مکتب از سوی شوراهای تعلیمی و مردم معارف‌دوست ولایت غور به هزینهٔ مجموعی چهار میلیون و ۴۷۰ هزار افغانی در سطح مرکز و ولسوالی‌های این ولایت آغاز شده‌است که نشان دهندهٔ مشارکت و همکاری مردم با معارف در این ولایت می‌باشد.

خوست

یک صنف مجهز کمپیوتر به ارزش ۲۲۱ هزار و ۳۶ افغانی برای لیسه مرکزی ولسوالی خاکی میدان ولایت خوست به همکاری مالی هموطنان معارف‌دوست و علاقه‌مندان علم، ایجاد و به بهره‌برداری سپرده شد. در این صنف کمپیوتر، امکاناتی شامل ۲۰ پایه کمپیوتر، میزها، چوکی‌ها، فرش و برق آفتابی مجهز فراهم شده است.

فراه

برنامهٔ چهارروزهٔ آموزشی و ارتقای ظرفیت برای مسئولان مکاتب و کارمندان هستهٔ مرکزی ریاست معارف ولایت فراه، با حضور محترم الحاج مولوی شمس‌الله کامران آخندزاده، رئیس معارف آن ولایت آغاز شد.

Marif Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»، مولوي عزیز احمد «ریان»، مولوي حبیب الله «مؤذن»، احمد شعیب «حقیقي»، عبدالصبور «غفراني»، محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»

انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»

شمېر: ۳۰۰۰

پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

د پوهنې کاروان مینه والو!

تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې بریښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.

Marifnewspaper1919@gmail.com

د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 335 /2026

پروژۀ برتر رقابت علمی ساینس و ریاضیات در ولایت غور انتخاب شد



مسئولان مدیریت مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی آمریت تعلیم و تربیه ریاست معارف ولایت غور می‌گویند که پروژه رقابت علمی ساینس و ریاضیات با اشتراک شماری از شاگردان مکاتب ولسوالی دولینه برگزار و با انتخاب یک پروژۀ برتر به پایان رسید.

به گفتۀ آنان، این برنامه با حضور مسئولان ملکی و نظامی و اعضای معارف ولسوالی دولینه برگزار شده بود که در جریان آن شاگردان پروژه‌های علمی خویش را در بخش‌های مختلف ساینس و ریاضیات ارائه کردند و پروژه‌ها از سوی هئیت داوری مورد بررسی و ارزیابی قرار گرفت. محترم عبدالوکیل متوکل مدیر عمومی مرکز ساینس و تکنالوژی تعلیمی ریاست معارف ولایت غور می‌گوید که در نتیجۀ این ارزیابی، پروژۀ تانگ زنجیری ساخته شده از سوی شیراحمد، فرزند احمد شاگرد صنف دوازدهم لیسۀ ذکور گردهلنگ به‌عنوان پروژۀ برتر در سطح ...

ص۲

د پکتیکا اوسپدونکو له لوري له ښوونځیو سره شاوخوا دوه مېلیونه افغانی مرستې تر سره شوې

د ۱۴۰۵ لمریز کال په تېرو شپږو میاشتو کې د پکتیکا ولایت د بېلابېلو ولسوالیو اوسپدونکو، قومي مشرانو او د ښوونځیو د شوراګانو له لوري د ښوونځیو د رغونې او بیارغونې په برخه کې د ۱ مېلیون ۹ سوه او ۶۸ زره ۵ سوه افغانیو په ارزښت نغدی او غیر نغدی مرستې تر سره شوي.

د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د معلوماتو له مخې یادې مرستې د ښوونځیو د ودانیو د ترمیم، د اوبو رسولو سیستمونو د جوړولو او بیارغونې، د جوماتونو د رغولو، د تعلیمي تاسیساتو د ښه والي او د اړینو اجناسو د برابرولو په برخو کې لګول شوې دي.

د پکتیکا ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد په دې اړه وویل چې د سیمې اوسپدونکو او پوهنې ریاست ترمنځ همکاري د ښوونځیو د پرمختګ لپاره مهمه ده او د همدې همغږۍ په شتون کې د ښوونیزو بنسټونو ډېرې ستونزې هوارېدلی شي.

نومورې زیاته کړه چې د ولسونو له لوري ترسره شوې دا ډول مرستې د ښوونیز نظام د پیاوړتیا د زده کړې کیفیت د لوړولو او زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال برابرولو په برخه کې مهم رول لري.

سږ کال شاوخوا ۴۳ زره راستنو شویو افغان کډوالو ماشومانو ته د زده کړې زمینه برابره شوې

د پوهنې وزارت د ځانګړې کړنلارې له مخې د روان ۱۴۰۵ هـ. ل ښوونیز کال د لومړیو شپږو میاشتو په ترڅ کې د ملک په بېلابېلو ولایتونو کې له ۴۳ زره ۸۴۱ راستنېدونکو افغان ماشومانو څخه د تعلیمي سوېې د تثبیت آزموینه اخیستل شوې، چې په پایله کې پې افغان کډوال ماشومان د خپلو تعلیمي سویو له مخې د خپلو سیمو نږدې ښوونځیو کې شامل او د زده کړې زمینه ورته برابره شوې.

د پوهنې وزارت ویاند محترم ذبیح الله همت واېي چې د یاد بهیر موخه راستنو شوو کډوالو ماشومانو ته د زده‌کړو د دوام زمینه برابرول، د هغوی تعلیمي سویه تثبیتول او په مناسبو ټولګیو کې شاملول دي، څو له تعلیمي ځنډ پرته خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي.

نومورې زیاته کړه: د پوهنې وزارت هڅه کوي چې راستنو شوو افغان کډوالو کورنیو ته د خپلو ماشومانو د زده‌کړو د دوام په برخه کې لازمې آسانتیاوې برابرې او په ښوونیز نظام کې د هغوی د شاملېدو بهیر په منظم او اغېزمن ډول ترسره کړي.

د یادونې وړ ده، چې تېر کال هم ۸۲ زره ۸۳۲ تنو افغان کډوالو ماشومانو د سوېې تثبیت آزموینې وروسته د ملک په ښوونځیو کې شامل شوي وو.

برگزاری نشست اعلام نتایج امتحان سیرت نبی ﷺ در شهر پلخمری مرکز ولایت بغلان



به‌منظور ارج‌گذاری به سیرت و شخصیت پیامبر گرامی اسلام حضرت محمد مصطفی ﷺ، تشویق شاگردان به فراگیری آموزه‌های اسلامی و تقویت روحیه رقابت سالم علمی میان آنان، محفل اعلان نتایج امتحان سیرت‌النبی ﷺ در لیسه حضرت عمر فاروق رضی‌الله‌تعالی‌عنه شهر پلخمری مرکز ولایت بغلان برگزار گردید.

این محفل با حضور محترم الحاج مولوی سید حفیظ الله معتصم‌بالله رئیس معارف ولایت بغلان، محترم الحاج مولوی اسدالله مصطفی هاشمی، رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت بغلان، محترم قاری نجیب‌الله همکار آمر معارف شهر پلخمری، آمرین و مسئولین مکاتب مدیران و استادان مکاتب، شاگردان و شماری از خبرنگاران برگزار شد.

در این محفل سخنرانان پیرامون فضایل و جایگاه والای حضرت محمد مصطفی ﷺ اهمیت مطالعه سیرت آن حضرت ﷺ و مسئولیت نسل جوان در پیروی از اخلاق و روش زندگی پیامبر اکرم ﷺ صحبت شد.

در این برنامه، ضمن اعلان نتایج برای شاگردان ممتاز جوایز ...

ص۲

نظارت رئیس حفظ و مراقبت تأسیسات و املاک از پروژه‌های ساختمانی در ولایت های کندز و جوزجان

محترم مولوی محمد اسحاق مقدس رئیس حفظ و مراقبت تأسیسات واملاک وزارت معارف وهیئت تخنیکی همراه شان از پروژه‌های ساخت تعمیرات جدید شماری از مکاتب در ولایت های کندز و جوزجان نظارت وبازدید به عمل آوردند.

رئیس حفظ و مراقبت تأسیسات و املاک وزارت معارف با مسئولان ریاست های معارف آن ولایت ها دیدار کرده و پیرامون چگونگی بررسی و ارزیابی تخنیکی پروژه‌های تطبیق‌شده گفت‌وگو نمودند.

نامبرده هدف از این سفر را بازدید میدانی، بررسی و ارزیابی تخنیکی پروژه‌هایی عنوان کرد که از سوی نهادهای همکار در بخش معارف ولایت های یاد شده تطبیق شده است. وی افزود که پس از بررسی‌های لازم، گزارش تخنیکی از وضعیت پروژه‌ها تهیه خواهد شد.

در همین حال، مسئولان در ریاست های معارف ولایت های یاد شده از همکاری و هماهنگی این ریاست ها با هیئت یادشده اطمینان داده و گفتند که ریاست های معارف کندز و جوزجان در راستای انجام بررسی‌های لازم، با آنان همکاری همه جانبه خواهد کرد.

په لغمان کې د دوو تنو علم دوسته شخصیتونو په مالي مرسته د یو باب ښوونځي د بیارغونې چاري بشپړې شوې

د لغمان ولایت بادپښ ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند د اندرور لېسې د بیارغونې چاري او دیادې لېسې په انګړ کې د ۱۶۰ مترو په ژوروالي څاه کیندلو چاري د ۲ میلیونو افغانیو په لګښت چې د یاد ولایت د دوو تنو علم دوسته شخصیتونو هر یو محترم حاجي عبدالوکیل رسولي او محترم استاد محمد رسول طاهري لخوا مرسته شوې وې بشپړې شوې.

د لغمان ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې د دې مرسته په لګښت سره د یاد ښوونځي د ۱۴ درسي ټولګیو د چتونو او فرشونو، کړکیو، دروازو، ښیښو او د ښوونځي ودانۍ رنګ او ترمیم شوي دي.

په هغه غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د لغمان د پوهنې رئیس محترم مولوي شاه جهان ساجد د خپلو خبرو پر مهال له محترم حاجي عبدالوکیل رسولي او محترم استاد محمد رسول طاهري څخه د دوی د سخاوتمندانه مرستو له امله مننه وکړه او له نورو هېوادوالو پې هم وغوښتل چې په ملک کې د ښوونیز نظام د پیاوړتیا او پرمختګ په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د غونډې په پای کې ځایي اوسپدونکو د درناوي او قدردانۍ په پار د لغمان ولایت د پوهنې رئیس، د بادپښ ولسوالۍ د پوهنې آمر او د کارکوونکو چارو عمومي مدیر ته د اعزاز پګړۍ ور پر سر کړې.

درنو هېوادوالو! راځئ چې له مدرس او ښوونکي سره د خپلو بچیانو د ښوونې او روزنې دروند مسئولیت په ګډه ادا کړو.